مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۴۴** (از ۱۹ الی ۲٦ حوت ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**زن افغان؛ قربانی افراط و تفریط ........ ۳**

خشونت علیه زنان در جهان ........ ۴

خشونت علیه زنان در افغانستان ........ ۵

عوامل خشونت علیه زن افغان ........ ٦

چه باید کرد؟ ........ ۷

**د حکومت د سولې نوی وړاندیز ولې بې‌ځوابه پاتې شو/ مرکه ........ ۸**

## مقدمه

د بېلابېلو ملي او نړیوالو ادارو شمېرې ښيي، چې په افغانستان کې له ښځو سره تاوتريخوالی او جنايي جرمونه کال په کال زیاتېږي. وخت ناوخت د هېواد په بېلابېلو سیمو کې، له ښځو سره د زړه بوږنوونکیو تاوتريخواليو خبرونه اورېدل کېږي. که څه هم افغان حکومت او نړیوالې ټولنې په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې د افغان ښځې د ژوند ښه کولو د مبارزې په نوم زیاتې هڅې او لګښتونه هم وکړل؛ خو دا هڅې په هغه لاره کې چې اړتیا یې وه، نه دي شوې.

دا چې په نړۍ کې د ښځې وضعیت څه دی، له افغانستان سره یې پرتلنه څه ډول ده، آیا افغانه ښځه د افراط او تفریط قرباني نه ده؟ او بالآخره په هېواد کې له ښځو سره د تاوتریخوالي بنسټيز لاملونه او حل‌لارې څه دي؟ د تحلیل په لومړۍ برخه کې یې په اړه د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د څانګې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې بیا د حکومت د سولې وړاندیزونو ته د طالبانو د غبرګون نه ښودلو په اړه مرکه لولئ. افغان حکومت په تېره څه باندې یوه‌نیمه لسیزه کې د لومړي ځل لپاره د تېر خلاف طالبانو ته د سولې لپاره څرګند وړاندیزونه وکړل؛ خو طالبانو په خپلې چوپتیا سره دغو وړاندیزونو ته د رد ځواب ورکړ. دا چې ولې طالبانو د حکومت دغې طرحې ته اهمیت ورنه کړ، د نورو پوښتنو ترڅنګ په دې مرکه کې ځواب شوي ده.

# زن افغان؛ قربانی افراط و تفریط



کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان گزارش سالانۀ خویش در رابطه به خشونت علیه زنان را هفتۀ گذشته (۱۱ مارچ ۲۰۱۸م) به نشر رساند. این گزارش می‌نگارد که در سال ۱۳۹٦ به تعداد ۴۳۴۰ مورد خشونت علیه زنان در افغانستان به ثبت رسیده است و این رقم در مقایسه به سال ۱۳۹۵ هـ ش حدود ۱۱,۷ درصد افزایش را نشان می‌دهد.

خشونت علیه زنان در افغانستان یکی از چالش‌های بزرگ اجتماعی در کشور به شمار می‌رود و زن افغان قربانی افراط و تفریط موجود در جامعه شده است. هشتم مارچ به عنوان روز زن در افغانستان نیز تجلیل می‌گردد و علاوه بر آن مقام‌های دولت افغانستان همواره از حمایت حقوق بشری زنان در کشور سخن می‌گویند، ولی عملا این وضعیت به دلیل افراط و تفریط موجود، نگران کننده به نظر می‌رسد.

از یک‌سو اگر خبرهای کشته شدن زنان در نتیجهٔ خشونت‌های خانواده‌گی به نشر می‌رسد، در جانب دیگر گاه‌گاهی خبرهای تکان‌دهنده‌ی قضایای ناموسی نیز به نشر می‌رسد که در برخی موارد مقام‌های بلندرتبه و زورمندان نیز در آن دست دارند. به گونهٔ مثال در یک مورد اخیر، یافته‌های خبرگزاری پژواک نشان می‌دهد که معاون دوم مجلس سنای افغانستان تلاش کرده با یک زن شوهردار عروسی نماید.[1]

در این تحلیل روی موضوع خشونت علیه زنان، عوامل این وضعیت و راه‌حل‌ها برای کاهش خشونت علیه زنان در افغانستان، پرداخته شده است.

## خشونت علیه زنان در جهان

خشونت علیه زنان پدیده‌ی نیست که در یک منطقه و یا یک کشور جهان محدود باشد، بلکه این پدیده در همه کشورهای جهان و بخصوص در غرب نیز وجود دارد. بگونهٔ مثال، در سال ۲۰۱۳م در کشورهای اتحادیه اروپا ۱۳ ملیون زن خشونت فزیکی را متحمل شده‌اند و ۳,۷ ملیون دیگر با خشونت‌های جنسی مواجه شده‌اند.[2]

به همین منوال، در امریکا در هر ۹ ثانیه یک زن مورد لت و کوب قرار می‌گیرد و از هر پنچ زن امریکایی یک تن در طول عمرش تجاوز جنسی را تجربه نموده است.[3] و نیز بر بنیاد گزارش اف بی آی، تنها در ۲۰۱۳م تقریباً ۷۹۷۷۰ مورد تجاوزات جنسی ثبت شده بود.[4]

آمار بالا نشان می‌دهد که خشونت علیه زنان محدود به یک کشور و یا یک محوطهٔ جغرافیایی نمی‌باشد و این پدیده در همه کشورهای جهان وجود دارد، ولی این بدان معنا نیست که ما از حوادث روز افزون و رقت‌بار خشونت علیه زنان در افغانستان چشم‌پوشی نماییم و در حل این مسئله در کشور تلاش نورزیم.

---

[1] برای جزئیات بیشتر به وب‌سایت خبرگزاری پژواک مراجعه نمایید:
https://www.pajhwok.com/dr/2018/03/06/%D9%8A%D8%A7%D9%81%D8%AA%D9%87-%D9%87%D8%A7%D9%89-%D9%BE%DA%98%D9%88%D8%A7%DA%A9-%D9%85%D8%B9%D8%A7%D9%88%D9%86-%D8%AF%D9%88%D9%85-%D9%85%D8%B4%D8%B1%D8%A7%D9%86%D9%88%D8%AC%D8%B1%DA%AF%D9%87-%D8%AA%D9%84%D8%A7%D8%B4-%DA%A9%D8%B1%D8%AF%D9%87-%D8%A8%D8%A7-%D9%8A%DA%A9-%D8%B2%D9%86-%D8%B4%D9%88%D9%87%D8%B1%D8%AF%D8%A7%D8%B1-%D8%B9%D8%B1%D9%88%D8%B3%D9%89-%D9%86%D9%85%D8%A7%D9%8A%D8%AF

[2] برای جزئیات بیشتر در این مورد، به سروی که توسط آژانس اتحادیهٔ اروپا برای حقوق بنیادی (Fundamental Rights European Union Agency for) انجام یافته است، مراجعه کنید: http://fra.europa.eu/sites/default/files/fra-2014-vaw-survey-main-results-apr14_en.pdf

[3] جزئیات ارقام را در اینجا بخوانید: http://www.ncadv.org/learn/statistics

[4] بیشتر بخوانید: https://www.fbi.gov/about-us/cjis/ucr/crime-in-the-u.s/2013/crime-in-the-u.s.-2013/tables/1tabledatadecoverviewpdf/table_1_crime_in_the_united_states_by_volume_and_rate_per_100000_inhabitants_1994-2013.xls

## خشونت علیه زنان در افغانستان

افغانستان یک جامعۀ سنتی و مذهبی بوده و اکثریت مردم آن بی‌سواد یا کم‌سواد اند و از حقوق زنان در دین مقدس اسلام اگاهی درست ندارند. به همین دلیل زنان در افغانستان از حقوق طبیعی و اسلامی شان محروم اند و حتی خواستن حق میراث برای زن افغان یک عیب پنداشته می‌شود.

خشونت علیه زنان در گذشته‌ها نیز در افغانستان وجود داشت، اما به دلیل اینکه سیستم ثبت قضایای خشونت موجود نبود، همواره چنین خشونت‌ها پوشیده باقی می‌ماند؛ اما اکنون به دلیل موجودیت ادارهها و قوانین ضد خشونت علیه زنان و فعالیت رسانه‌های مختلف، برخی از حوادث این خشونت‌ها ثبت و نشر می‌گردد.

پس از سال ۲۰۰۱م و تشکیل نظام جدید علاوه بر اینکه در چوکات دولت افغانستان وزارت‌خانه‌ی برای زنان تشکیل شد، سهم زنان در حکومت نیز افزایش یافت و از این لحاظ افغانستان از اکثر کشورهای جهان نیز پیشی گرفت. چنانچه در پارلمان فعلی افغانستان سهم زنان نسبت به پارلمان کشورهای فرانسه، روسیه، جاپان، هند و پاکستان و اکثر کشورهای دیگر بیشتر است. سهم زنان در معارف، تحصیلات عالی، ادارات دولتی و غیردولتی نیز نسبت به گذشته افزایش یافته است. در کنار این، برخی قوانین برای حمایت از حقوق بشری زنان نیز به تصویب رسید، ولی با این همه، خشونت علیه زنان با انواع مختلف آن همه‌ساله روبه افزایش بوده است.

بربنیاد معلومات لوی سارنوالی افغانستان، تنها از آغاز سال ۱۳۹٦ هـ ش تا ماه هشتم این سال، بیشتر از ۱۷۰۰ صد قضیه خشونت علیه زنان از سوی این نهاد بررسی شده است که شامل ۹۹۵ قضیه لت و کوب، ۱۴۷ مورد تجاوز جنسی، ۱۳۴ مورد دشنام و ۱۱۵ مورد آزار و اذیت زنان بوده است.

در کنار این، گزارش اخیر سالانۀ کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان نیز بیانگر افزایش خشونت علیه زنان نظر به سال قبل است. در این گزارش از مجموع آمار ثبت شدۀ خشونت علیه زنان در سال ۱۳۹٦هـ ش ۱۴۲۰ مورد خشونت‌های فزیکی، ۲۲۸ مورد خشونت‌های جنسی،۱۳۱۷ مورد خشونت‌های لفظی و روانی، ۷۴۹ مورد خشونت‌های اقتصادی و ٦۲۹ مورد دیگر شامل سایر موارد خشونت علیه زنان به ثبت رسیده است.

## عوامل خشونت علیه زن افغان

عوامل مهم خشونت علیه زنان در افغانستان را می‌توان در نکات ذیل بیان کرد:

**عدم آگاهی مردم از حقوق زن در اسلام:** بی‌سوادی و یا کم‌سوادی در کشور باعث عدم آگاهی و یا تعبیر نادرست شماری از مردم از حقوق و مقام زن در شریعت اسلامی شده است.

**افراط و تفریط:** در جامعهٔ ما از یک‌سو حقوق انسانی زنان زیر پا می‌گردد و از سوی دیگر وضعیت افراطی به وجود آمده که خلاف تمام ارزش‌های این جامعه، زن افغان را به یک حالت بی‌گانه داخل نموده و حمایت از حقوق بشری زنان در جامعه را به صورت منفی متاثر ساخته است. در کنار این، قوانین و مقرراتی برای مبارزه با خشونت علیه زنان وضع می‌گردد که نه تنها در تناقض با تعالیم اسلام قرار دارند، بلکه عکس‌العمل تند و افراطی جامعه را نیز بر می‌انگیزد.

افراط و تفریط باعث حساسیت مردم در برابر این قضیه شده و به همین دلیل از مهم‌ترین عوامل حوادث تکان‌دهنده نیز به شمار می‌رود که به گونهٔ مثال از حادثهٔ قتل دختر جوان به نام فرخنده در سال 1393 در شهر کابل می‌توان یاد کرد.

**جهالت و کمبود علم و دانش:** جهالت، بی‌سوادی و یا کم‌سوادی از عوامل مهم دیگری خشونت علیه زنان در جامعه شمرده می‌شوند. به همین دلیل است که اکثریت حوادث شنیع در مناطق دوردست و دهات بوقوع می‌پیوندد و موارد خشونت علیه زنان توسط افراد بی‌سواد و یا کم‌سواد در کشور همه‌ساله افزایش می‌یابد.

**تاثیر فرهنگ بی‌گانه:** از سال ۲۰۰۱م بدین سو به دلیل نشرات بی‌کنترول رسانه‌ها، فرهنگ بی‌گانه در کشور در حال گسترش است و تاثیرات ناگواری روی فرهنگ جامعه افغانی داشته است. در اثر ترویج همین فرهنگ بی‌گانه موارد طلاق در افغانستان بیشتر شده، زنان مورد آزار و اذیت در اماکن عامه قرار می‌گیرند و تجاوزات جنسی نیز افزایش یافته است و حتی موارد تجاوز جنسی بر اطفال کم‌سن و محرمات نیز گزارش داده شده است.

**ضعف در تطبیق قانون و فساد اداری:** عدم تطبیق درست و همگانی قانون و موجودیت فساد اداری در ارگان‌های عدلی و قضایی افغانستان نیز از جمله عواملی است که باعث افزایش موارد خشونت علیه زنان در کشور گردیده است.

## چه باید کرد؟

از آنجاییکه میزان خشونت علیه زنان در کشور همه‌ساله رو به افزایش است، برای جلوگیری از چنین حوادث ناگوار در کشور، نیاز جدی به بالا بردن آگاهی عامه در مورد حقوق زنان، بالا بردن سطح دانش به خصوص در مناطق دوردست کشور، توجه به نقش علمای دین در افهام حقوق زن در اسلام و مبارزه با فساد اداری در ارگان‌های عدلی-قضایی و امنیتی دیده می‌شود. در کنار این، انتقادهای زیادی در مورد نشرات و برنامه‌های برخی رسانه‌ها نیز وجود دارد.

حکومت افغانستان برای جلوگیری از افزایش حوادث شنیع خشونت با زنان به خصوص در مناطق دوردست کشور تاکنون کار موثری نکرده است ، بالعکس باورهای در جامعه وجود دارد که تلاش‌های حکومت و جامعهٔ بین‌المللی در این عرصه نه تنها منتج به بهبود وضعیت زنان نشده، بلکه این تلاش‌ها مشوق بی‌بندوباری و در نتیجه افراط در این قضیه پنداشته می‌شود.

# د حکومت د سولې نوی وړاندیز ولې بې‌ځوابه پاتې شو/مرکه



افغان ولسمشر د کابل پروسې په دویمه غونډه کې، چې (د کب په ۹مه ۱۳۹۶) په کابل کې جوړه شوه، د حکومت د سولې نوې تګلاره وړاندې کړه او طالبانو ته یې له حکومت سره د سولې د خبرو اترو د پیل لپاره، یو لړ مشخص وړاندیزونه‌و کړل. د حکومت د سولې له دغې تګلارې په ملي او نړیواله کچه ملاتړ وشو او په پراخه کچه یې په رسنیو کې انعکاس وموند.

د کابل پروسې له دویمې غونډې وروسته داسې هیلې راوټوکېدې، چې طالبان به د ولسمشر غني دغو وړاندیزونو ته شین څراغ ورکړي؛ خو د څو اوونیو په تېرېدو سره لاهم طالبانو رسما خپل دریځ نه دی روښانه کړی او په غیرمستقیم ډول طالبانو ته د نږدې لورو له‌خوا داسې ښکاري، چې د حکومت دغو تازه وړاندیزونو ته د طالبانو ځواب منفي دی.

په دې تړاو یو شمېر پوښتنې بې‌ځوابه دي او د همدغو پوښتنو د ځوابونو لپاره، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز رسنیزې څانګې، د دغه مرکز له رئیس **دکتور عبدالباقي امین** سره مرکه کړې او دلته یې له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوو:

**لومړی پوښتنه دا ده، چې طالبانو ولې د افغان حکومت د سولې نوي وړاندیز ته، چې په تېرو ۱۷ کلونو کې بې‌مخینې بلل کېږي، ځواب ونه وایه؟**

**ځواب:** دا چې طالبانو تر دې دمه د افغان دولت وړاندیزونو ته ځواب نه دی ویلی، ښایي اصلي علت یې دا وي چې حکومت په خپلو وړاندیزونو کې د جګړې اساسي عامل، چې په افغانستان کې د بهرنیانو حضور دی، له پامه غورځولی او په دې برخه کې هېڅ وضاحت نه لري. طالبان په هېواد کې د امریکایانو د حضور مخالف دي او وایي چې موږ د امریکایانو د حضور تر وخته جګړه کوو؛ خو په دغو وړاندیزونو کې له دغې قضیې سترګې پټې شوې دي. زه فکر کوم که د امریکایانو د وتلو په تړاو مهالوېش وړاندې شي، دا به سولې ته په بنسټیزه توګه لاره هواره کړي؛ یا هم باید اوس امریکایان دا وضاحت وکړي، چې که طالبان د سولې خبرو اترو ته راشي او د جګړې د ختمېدو هیله پیدا شي، موږ مهالوېش وړاندې کوو.

زما په اند، اوسمهال طالبان، افغان حکومت او امریکا ټول په دې پوهېږي چې یو لوری هم د جګړې له لارې نه شي بریالی کېدلی؛ خو ستونزه دا ده چې د ټولو لورو سیاستونه بیا هغسې نه دي، چې د جګړې پر ځای سولې ته لاره هواره کړي. طالبان هم له یوې خوا وایي چې موږ له امریکا سره د سولې خبرې کول غواړو؛ خو سره له دې جګړه هم کوي او د جګړې شدت یې هم ساتلی دی. امریکایانو هم د ولسمشر له وړاندیزونو کلک ملاتړ وکړ؛ خو عملا یې ټینګار او تګلاره پر جګړې تمرکز دی. دغه راز امریکایانو په افغانستان کې د خپل حضور او یا وتلو لپاره هېڅ کومه نېټه نه ده ټاکلې. حتی اوس نه د خپل تعداد او نه هم د وتلو په اړه څه خبره کول غواړي. افغان حکومت بیا په تصامیمو کې پوره رول نه لري، کوم تصامیم چې په امریکا کې نیول کېږي افغان حکومت یې دلته اعلانوي او یا یې ملاتړ کوي.

**دا چې طالبان له امریکا سره د سولې خبرو ته چمتو دي، له افغان حکومت سره ولې خبرو ته نه چمتو کېږي؟**

**ځواب:** د طالبانو د تېرو څو کلونو له دریځونو څرګنده ده، چې دوی دا قضیه په دوو برخو وېشلې ده. لومړی: په افغانستان کې د بهرنیانو پوځي حضور؛ دویم: په نظام کې بدلونونه. د دوی دریځ چې څومره ما څارلی، د لومړي ټکي په اړه وایي، چې د جګړې یو لوری امریکا ده او دا چې عملا امریکایان په افغانستان کې حضور لري، نو ځکه موږ هم د امریکایانو د حضور او یا وتلو په اړه مستقیم له امریکا سره خبرې کوو؛ ځکه افغان حکومت د دې اختیار او صلاحیت نه لري چې امریکایانو ته ووایي چې تاسې دلته واوسېږئ او یا هم له دې

ځايه ولاړ شئ. د دويم ټکي په اړه يې بيا نظر دا دی، چې که امريکايان د وتلو نېټه وټاکي يا له هېواده ووځي، په نظام کې د بدلونونو په اړه له افغان لوري سره خبرې کوي. همدا لامل دی، چې طالبانو اوس امريکا ته د خبرو اترو وړانديز کړی او وايي، چې د امريکايانو د حضور او وتلو او يا هم خپلو بنديانو او نورو قضيو په اړه چې له امريکا سره تړاو لري، له هغوی سره خبرې کوو. وروسته بيا له افغان حکومت او نورو افغان سياسي لورو سره په داخلي مسايلو خبرې کوو.

زما په نظر له طالبانو سره د سولې په اړه د افغان حکومت اوسني وړانديزونه د ستايلو وړ دي؛ خو دا چې ځينې کمی لري، ښايي ډېر خلک يې په عملي کېدو شک وکړي. ما دا خبره د سولې عالي شورا رئيس ته هم کړې، چې ښايي په دغو وړانديزونو ډېر څه مرتب نه شي. ځکه تاسو واورېدل، چې د کابل پروسې په دويمه ناسته کې د ولسمشر له خبرو وروسته، د بهرنيو چارو وزير وويل چې سوله قومي او ټولنيز اتفاق ته اړتيا لري؛ معنا دا چې د ولسمشر خبره د ټولو خبره نه ده او دې ته ورته نظر تقريبا د اجرائيه رئيس هم دی. نو کله چې له ولسمشر سره هغه خپل حکومتي ټيم پوره موافق نه وي، دا به څه پايله ولرلی شي. نو ځکه زه وايم چې دا طرحه يو څه تر وخت مخکې او د قبلولو لپاره يې زمينه‌سازي نه ده شوې؛ له همدې کبله يې په اړه طالبانو هم غبرگون نه دی ښودلی. دلته داسې يوه ميکانېزم ته اړتيا ده، چې هم طالبان، هم حکومت او هم په هېواد کې نور بېلابېل سياسي لوري پرې توافق ولري؛ ځکه تر هرڅه وړاندې اعتماد جوړونې ته اړتيا ده. اصلا د روانې قضيې ملامت او سلامت معلومول څه گټه نه لري، بلکې د دغې جگړې بندول پکار دي.

**نو ستاسو په اند څه ډول به د خبرو اترو پيل ممکن شي؟**

**ځواب:** دا چې طالبان وايي موږ له حکومت سره خبرو ته نه کېنو او موږ له امريکايانو سره خبره کوو، دا يو بن‌بست دی او طالبان بايد له حکومت سره خبرې وکړي. خو زه وايم که چېرته طالبان له حکومت سره خبره نه کوي؛ خو له نورو اغېزناکو افغان لورو سره خبرو اترو ته حاضر دي. ولې حکومت دلته مثبت غبرگون نه ښيي. اړتيا ده چې يوه داسې د خبرو اترو مقدماتي لړۍ پيل شي چې په هغه کې هم طالبانو او هم حکومت او نورو سياسي لورو، قومونو او ډلو ته لنډ او باوري کسان موجود وي، ترڅو د هغوی د خبرو په پايله کې د ښکېلو لورو نظرونه سره لنډ کړای شي او د لارې داسې نقشه جوړه شي، چې ټول پرې توافق ولري. ترڅنگ يې داسې يو ضمانت کوونکی لوری هم رامنځته شي، چې د اړتيا پر مهال د کوم لوري د ژمنو د ماتولو مخنيوی وکړي؛ ځکه هسې نه کله د سولې د مخالفينو له لوري يوه چاودنه وشي، بيا به يو لوری وايي چې زه خبرې نه کوم، همدا

تېره میاشت په کابل کې له برید وروسته امریکا او بیا افغان ولسمشر وویل، چې نور له طالبانو سره د سولې خبرې نه کوو. ستونزه دا ده، چې حکومت د داسې پروسې د رامنځته کولو لپاره چمتو نه دی، ځکه ما خپله دا وړاندیز حکومت ته کړی او له همدې کبله زه د سولې په خبرو کې د حکومت لهخوا د افغانانو د مالکیت په اصطلاح کې ستونزې ګورم.

**د سولې په خبرو اترو کې د افغانانو د مالکیت په اصطلاح کې څه ستونزه ګورئ؟**

**ځواب:** د افغانانو په مالکیت د خبرو اترو اصطلاح شاید مثبت اړخ هم ولري او هغه دا چې هېواد د بهرنیانو له لاسوهنو او مداخلو باید وساتو؛ خو زما په اند دغې اصطلاح او تګلارې اوس د سولې پر خبرو اترو منفي اغېز کړی او یو خنډ ګرځېدلی دی. ځکه اوس دا خبره په دې معنا کېږي، چې افغان حکومت به ټول ابتکار او هر څه په لاس کې لري، ټول ابتکار دې د یوه لوري په لاس وي، زړه یې که خبرې کوي او که یې نه کوي. دا د سولې په برخه کې خنډ دی. دلته طالبان او افغان حکومت دواړه افغاني لوري دي. دا خو ښه خبره ده چې افغانان د دې پروسې ابتکار په لاس کې ولري او د بهرنیانو له لاسوهنو مخنیوی وشي، خو دلته باید داسې بېطرفه او اغېزناکو ملي او نخبه خلکو ته چې ملي منافعو ته ژمن وي، فرصت ورکړل شي چې په دې برخه کې خپل رول ولوبوي؛ نه دا چې هر څه به د حکومت له لارې کېږي، اصلا ستونزمنه ده چې دوه متخاصم لوري د منځګړي له شتون پرته اغېزناکې خبرې اترې وکړای شي.

له بله پلوه د ولسمشر دریځونه هم ډېر ژر ژر او ژور بدلون مومي. د کابل پروسې له غونډې څو ورځې مخکې یې وویل چې نور له طالبانو سره سوله نه کوو؛ خو په دې غونډه کې یې بیا دا ډول وړاندیزونه مطرح کړل. د هېواد د سترو قضایاوو په برخه کې په دې توګه د دریځ بدلولو سره ولسمشر خپل اعتماد له لاسه ورکوي. سبا که یوه حادثه وشي او ولسمشر بیا ووایي چې د سولې خبرې نه کوو، بیا به څه کېږي. ځکه نو باید داسې یو لوری رامنځته شي، چې د غبرګوني تصرفاتو مخنیوی وکړي. همدا اوس د ولسمشر د دریځونو له کبله بېباوري خپره ده او خلک انګېري چې ولسمشر یو ځل بیا د سولې خبرې تحریم نه کړي.

بل څه چې مهم دي او خنډ یې بولم، دا دي چې تصور باید داسې نه وي لکه په لومړي سر کې د سولې خبرې پیل شوې او ویل کېدل، چې طالبان دې تسلیم شي. اوس داسې وېره شته، چې هغه تصور بیا غالب شوی او امریکا او افغان حکومت غواړي طالبان خپله وسلهواله مبارزه د امریکایانو په شتون کې پر سیاسي مبارزه بدله

کړي. کوم څه چې ښايي طالبان يې هېڅکله هم ونه مني. له همدې کبله بايد حکومت اساسي خبره د مذاکراتو مېز ته راوړي.

**تر دې مخکې افغان حکومت د سولې لپاره پر پاکستان تمرکز درلود، اوس پاکستان هم د حکومت د سولې له نوې طرحې ملاتړ کړی، ستاسو په اند پاکستان څومره رول لرلی شي؟**

**ځواب:** واقعيت دا دی، چې سوله د ټولو په ګټه ده. که پاکستان سم فکر وکړي، نو هغوی بايد په افغانستان کې سوله وغواړي. ځکه په افغانستان کې ثبات د پاکستان ثبات دی او ثبات نن ورځ له پرمختګ سره کلک تړلی دی. پاکستان په افغانستان کې سولې ته داسې اړتيا لري، لکه څرنګه يې چې په خپل هېواد کې لري؛ خو متأسفانه سياستونه د دواړو هېوادونو او سيمې په ګټه مخته نه ځي. پاکستان دوه‌ګونی سياست لري. په لومړيو کې يې خپله خاوره د امريکا په واک کې ورکړه او طالبان يې پرې وځپل؛ خو اصلا داسې فکر کوي چې په سيمه کې يې د امريکا حضور په ګټه نه دی او نه يې غواړي. دغه راز په سيمه کې د هند نفوذ هم نه غواړي؛ نو ځکه داسې لوبه کوي، چې هم له امريکا څخه مرستې ترلاسه کړي، هم د امريکا حضور تر سوال لاندې راولي او هم د هند د نفوذ مخه ونيسي.

**نو ستاسو په اند افغانستان د سيمې د هېوادونو له دا ډول سياستونو سره څه ډول چلند وکړي؟**

**ځواب:** دلته د سيمې په کچه څو ډوله داسې فعاليتونه په‌کار دي، چې د سولې لپاره مرستندوی واقع کېدای شي. لومړی خو افغان حکومت ته پکار ده، چې د زبرځواکونو او سيمه‌ييزو او نړيوالو بلاکونو ترمنځ بې‌طرفه پاتې شي. د بېلګې په توګه د چين، امريکا، روسيې، هند او نورو ترمنځ توازن وساتي، نه دا چې لکه د اوس په څېر د امريکا د سياستونو په غېږ کې داسې ورننوځي، چې سيمه‌ييز توازن په پام کې ونه نيسي. دا کار د افغانستان په ګټه نه دی. له حقوقي او سياسي لحاظه هم بايد د ګاونډيانو حساسيتونه په پام کې ونيسي. په اوسني وخت کې افغانستان پاکستان ته اړتيا لري او پاکستان افغانستان ته اړ دی؛ نو ځکه د باور جوړولو اړتيا ده. په دواړو هېوادونو کې د يو بل پر ضد لابي‌ګانو پر ځای د دې قناعت پر جوړولو کار وشي، چې سوله د دواړو هېوادونو په ګټه ده او شته خنډونه يې بايد له منځه ولاړ شي. اوس چې د امريکا ستراتيژي وايي، چې د هند رول بايد په افغانستان کې زيات شي، معنا دا چې د پاکستان حساسيت ډېرېږي او له همدې کبله زه وايم چې د ټرمپ ستراتيژي په ټوليز ډول د افغانستان په ګټه نه ده. په دې توګه افغانستان يوې نيابتي جګړې ته ورداخلېږي.

همدا راز سمه ده، چې د امریکا لومړیتوب به د روسیې، چین او نورو هېوادونو کنټرولول وي؛ خو د افغانستان لومړیتوب خو دا نه دی، افغانانو ته بې‌طرفي پکار ده او نباید د چین، روسیې او امریکا ترمنځ د رقابتونو قرباني شي، بلکې د بې‌طرفۍ په حال کې د هغوی له امکاناتو ګټه واخلي. افغانستان یو مهم جیوپولیټیک موقعیت لري، دا موقعیت زموږ لپاره باید د زیان پر ځای ګټور تمام شي.

**مننه**

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.